Social Sceince
AcademicJournal
لیډ د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# په افغانستان کې د مخدره توکو د روږديدو د زياتوالي لاملونه او د مخنيوي لارې چارې

نیازمحمد احساس[1*]، حافظ عزيزالله حنفي[2]

[1]حقوق څانګه، حقوق او سياسي علوم پوهنځی، اراکوزيا د لوړو زده کړو مؤسسه

[2]حقوق څانګه، حقوق او سياسي علوم پوهنځی، اراکوزيا د لوړو زده کړو مؤسسه

د مسؤل ایمیل ادرس : niazmohammad504@gmail.com

## لنډيز

مخدره مواد هغه کیمیاوي یا طبعي مرکبات دي چې د انسان پر ذهن او بدن ځانګړی تاثیر اچوي، د اعتیاد لامل ګرځي او د فزیکي یا رواني انحصار سبب کیدای سي. متأسفانه افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دي چې په مخدره موادو د روږدو کسانو شمیر په کښې زیات او ورځ تربلي یې شمیره نوره هم د لوړيدو په حال کې وه ، چې له نیکمرغه د اسلامي امارت په راتګ سره د معتادینو او په نشه یې توکو د روږدیدو په شمیر کې د پام وړ کموالي راغلي دي. په افغانستان کې په مواد مخدره مواودو د معتادينو شمير د زياتوالي مختلف عوامل شتون لري لکه کښت ،ګډوالي ،بیکاري، د عامه پوهاوي نشتوالی ،د قانون نه عملي کيدل ،د بدیل نشتوالی ،نړیوال بازار او د تعلیم کموالی. نشه يي توکي د انسانانو ترخنګ پر حیواناتو باندې هم اغیز لري چې د نوموړو اغیزو په پایله کې په ټولنه کې جرایم زیاتیږي. ددې کتابتوني څیړنې موخه داده چې د په مخدره موادو دروږدي کيدو دزياتوالي عوامل او دحل لارې چارې په خلص ډول روښانه سي. ددې څیړنې په نتیجه کې معلومه شوه چې د مخدره موادو داخته کيدو زياتوالی ډيرې خطرناکه پايلي لري چې زموږ د کورنۍ، ټولنې او ماشومانو پرصحت سربېره د جرايمو په ترسره کولو کې هم اساسي رول لري. ددې لپاره چې په ټولنه کې د نشه يي توکو د اخته کیدو د زیاتوالي عوامل او اغیز کم سیاو د جرایمو کچه صفر ته راټیټه سیدولت باید د نشه یي توکو پر وړاندې بدیل کښتونه، د ځوانانو لپاره کاري فرصتونه او هغه معتادین چې د نشه يي توکو له اعتیاد څخه یې روغتیا پیداکړي وي په حرفوي او مسلکي کسبونه باندې مصروف سیترڅو د بیا روږدي کيدو څخه يې مخنيوي وسي.

**کلیدي کلمې:** نشه یي توکي، د زياتوالي عوامل، درملنه او د حل لارې چارې.

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۱۱/۱۳ منل سوې:۱۴۰۳/۱۱/۲۷ خپره سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-2-10 مخونه (۱۶۱-۱۷۱)

## سريزه

سره له دي چي يوشميرځوانان د نشه يې توکو په زيانونو باندي خبردي، خو بيا هم ځيني ځوانان هغه په ډيرشوق او ذوق سره استعمالوي، جسمي، رواني،ټولنيز، اقتصادي او ان سياسي خطرونه يې مني د اسلام سپيڅلي دين هرډول نشه حرام عمل بللی او څښونکو ته يې د نه څښني امر کړيدي.( سورة البقره۲۱۹ ايات).

همدارنګه دنشه يې توکوله جملي څخه که يواځي د الکولو د څښاکو ضرر ته متوجه سو په کومه اندازه ضررله ځان سره لري، الکول ژرپه وينه کي جذبيږي اومغزته ځان رسوي، هلته بي هوسيرامنځته کوي. نشه يې توکي مغزترخپلي اغيزي لاندي نيسي اوپه وينه کي چي څومره دهوښ، دقت، فکر اوپوهېدوقوه زياته وي هغه کمزوري کوي اود عاطفي ګډوډۍ له امله کس مست او ټولني آدب اوکلتورونه هېروي، مذهبي او اخلاقي قيدونوڅخه ځان باسي او د خطرناکوبيلابيلو جرمونولامل کيږي،(مهدي ،۱۳۴۵).

همداسي هرډول نشه که هغه نصوار، سګرټ، چرس، پوډر، اپين، هيرويئن، شراب او داسي نوروي د بدن هر غړی مو اغېزمنولي سياو دهغه غړي د خرابېدو لامل ګرځي( امربالمعروف ونهی عن المنکر قانون، ۲۲ ماده ).

په افغانستان کي د نا امنيو او جګړو تر څنګ، نشه يي توکي هم يو له پېچلو ټولنيزو ستونزو څخه شمېرل کيږي چي په خلکو يې د کور ورانوونکي بلا په څېر څادر غوړولي او ورځ په ورځ د خلکو ژوند او پانګه له منځه وړي.نړيواله مافيا او ځيني کورنی غړي د نشه يي توکو په قاچاق او توليد کي لاس لري، پايله يې د نشه يي توکو د کرکيلي زياتوالی او د ځوانانو روږدېدل دي.( سروری، ۱۳۸۹).

شواهد ښيي چي په تيروکلونوکي افغانستان د نړۍ د اړتيا وړ اپينو ۹۰ په سلو کي توليدوي، خو اوس الحمدالله داسلامي امارت په راتګ سره د نشه يي توکو پر وړاندي د مبارزې وزارت تکريبا په هېواد کي د کوکنارو کرکيله او توليد صفرته رااکم سوی دی (دافغانستان اسلامي امارت دنشه يي موادومتعلق کړنلاره قانون،۱۴۴۵ ). ددې لپاره چي ددغه ناوړه مادي مخه نيول سوي وي نو د نړۍ اکثره هيوادونو تر منځ د مخدره موادو مخنيوي لپاره زيات پروتوکولونه او کنوانسيونونه رامنځته سول

چي دغه لړی تر اوسه هم دوام لري او د دنیا ډیر هیوادونه یې غړیتوب لري . دمخدره توکو دکمیسون کلنی راپور، ( ۱۹۶۵).

ددي لپاره چي موضوع ښه راته روښانه سي اعتیاد پیژنو؛

معتاد هغه کس ته ویل کیږي چي د رواني او جسمي نقطې له نظره د یو مخدره مادې سره تړاوو لري یاپه بل عبارت اعتیاد یو قسم مخدره مادې استعمال ته ضرورت دی چي د نه استعمال په صورت کي یو قسم خاص حالت رامنځته کیږي چي د روږد کس لپاره د تحمل وړ نه دی اودفهم او درک قوه کمزوري کوي ، اود سستۍ حالت رامنځته کوي،اود غلا،دوکه،خیانت،ځان خرځول ، دنوروتسوی ق اوجرم ته هڅونه ترسره کوي.ډیري خلک پدی نه پوهیږي چي ولي  نور خلک په اعتیاد اخته کیږي او شاید اشتباه فکر وکړي چي دغه روږدي کسان اخلاقي ضعف لري او یا هم د ارادی له پلوه کمزوری دي نو ولي د نشه موادو استعمال نه بس کوي. خو حقیقت دادي چي اعتیاد یوه مغلقه ناروغی ده او د نشه موادو پریښودل له ارادی سره سره نور ډیر څه ته ضرورت لري ځکه اعتیاد په مغزو کي داسي تغیرات رامنځته کوی چي د نشه یي موادو پریښودل ستونزمنوی خو خوشبختانه تحقیقاتو دا ثابته کړی چي اعتیاد د انسان په مغزو کي څه ډول تغیرات رامنځته کوي او لکه د نورو مزمنو ناروغیو پشان اعتیاد هم تداوي لري او یو معتاد شخص کولای سیچي سالم ژوند ولري. (دانش ،۱۳۸۹).

## د اعتیاد ځانګړتیاوي:

اعتیاد څلور مهمي ځانګړتیاوي لري چي په لاندي ډول دي:

۱. هر هغه ثوک چي مخدره مواد په متواتر ډول وکاروي نو ددغه مادي د استعمال به یې جسمي او رواني اړیکه جوړیږي او هر وخت به ددي مادي د استعمال په لټه کي وي.

۲. معتاد کس کوښښ کوي چي ورځ په ورځ د مخدره موادو کارولو مقدار زیات کړي.

۳. د مخدره د انطقاع په صورت کي په معتاد کس کي یو خالص حالت منځته راځي لکه: ذهني نا ارامي او د عضلاتو درد او داسي نور...

۴. په مخدره موادو روږد کس به د ټولني لپاره ضررمند وي. (دمسکراتو اومخدره توکوپروړاندي دمبارزي اوکنټرول قانون ،۱۳۸۹).

**د مخدره توکو د معتادينو شمير د زياتوالي لاملونه په لاندي ډول دي:**

**۱. کښت:**

دا هغه برخه ده چې د نشه يي توکو او موادمخدره په زياتوالي کې ډيره زياته ونډه لري ځکه هغه وخت يو انسان په نشه يي توکو روږد کيږي چي لاس رسی ورته ولري،چې بدبختانه دا زموږ په هيواد کې ډير زيات وه او زيات ځوانان وربانديې روږدي سوي دي چي په دې برخه کې کار کوي ،ډير هغه خلك وربانديې اخته سوي دي چي د پوډرو په جوړولو کارخانو کې يې کار کوي ځکه هغوی ورسره عادي سوي دي کله چې به يې کار نه وو نو هغوی به کوښښ کوي چي دا پيدا کړي او ويڅکوي چې يو لوی لامل يې کښت دی او د هغه ماحول برابروالي دی چي انسان ډير ژر وربانديې اخته کوي. (په افغانستان کې دنشه يي توکوپروړاندي دمبارزي دقضايي اوعدلي مرکز،۲۰۱۲ ).

**۲. ګډوالي:**

کډوالي هغه پديده ده چې زموږ هيواد يي د راز راز ستونزو سره مخامخ کړيدي چي يو ستونزه يي اوس هم زموږ هيوادوال ځوروي چي يو د هغوی څخه زموږ همسايه هيوادونه دي لکه: ايران ته د خلکو تګ راتګ دی ځکه زموږ هغه ولايتونه چي د ايران سره سرحد لري ډير زيات معتادين لري ځکه ايران په نړی کي يو د هغو هيوادونو څخه دی چي وګړي يې ډير زيات په نشه يي توکو اخته دي چي په هغوی کي يې د ښځو شمير هم زيات دی او همداراز يو شمير يې د پاکستان څخه هم راځي او دغه پديده راوړي خو د ايران ګډوال موږ ته په دي برخه کي لويه ستونزه ده. (صافي ،۱۳۹۷).

**۳. بيکاري:**

دا هغه برخه ده چي کيدای سي چي د روږد کسانو شمير زيات کړي ځکه يو انسان چي بيکاره وي نو د هر ډول ذهني فشار سره مخامخ وي او کله چي بيا د افغانستان هيواد غوندي بې سواده وګړي وي نو د خپل ذهن د ارام کولو لپاره نشه يي توکي يو ښه شی بولي او همدارنګه د هغه کسانو سره ناسته چي بيکاره دي مستقيم اغيزي پرې لري ځکه انسان چي کله مصروفه وي نو نورو کارونو ته يې ډير پام نه وي. (صافي ، ۱۳۹۳).

### ۴. د عامه پوهاوي نشتوالی:

دا هغه برخه ده چې په ځانګړي توګه زموږ د هیواد ښځي پر خبر نلري په ځانګړي توګه په شمالي ولایتونو کي ځکه هلته ښځي قالیني جوړوي نو د خپلو کوچنیانو د خاموشه کولو لپاره هغوی ته نشه یي توکي ورکوي تر څو هغوی په ساعتونو ساعتونو خاموشه پاته سي او دوی کار وکړي چې دا یې د غربت لامل هم دی او عامه پوهاوی مي په دې وویل چې خلک د نشه یي توکو په اړه نه اسلام مبارک دین څخه خبر دي او نه هم د طبي اړخه خبر دي ځکه چې که دوی خبر وای نو چې په اسلام کي نشه یي توکي حرام دي او په روغتیایي ډول خومره مضره دي نو په دې حالت کي به هغوی زړه نه وای ښه کړی تر څو نشه یي توکي استعمال کړي او یا هم ماشومان ورباندي ارام کړي .همدارنګه زموږ هیواد کي اوس هم ډیر وګړي د کوکنارو کښت حلال ګڼي او پروسس یې کوي او وایي چې دا کوم حرام یا د قانون خلاف عمل نه دی، ځکه تر څو د نشه یي توکو پر ضد د مبارزې قانون هم په پوره ډول تر خلکو پوري نه دی رسیدلي او پر خبر نه دي،اود اسلامي شریعت له مخي هرهغه چې نشه لري د شرابو په حکم کي راځي اوحرام ګڼل کیږي ،کل مسکرخمر وکل خمر حرام ،د( سورت المایده(۹۳،۹۱،۹۰ ایاتونه).

### ۵. د قانون نه عملي کول؛

دا هغه برخه ده چې ټولنه یوازې د نشه یي توکو په برخه کي نه بلکي په نورو برخو کي هم ټولنه د ستونزو سره مخامخ کولای سي، خو دا چې موضوع مو نشه یي توکي دي نو یوازې په همدې باندي بحث کوو:

د ولسمشر حامد کرزي په وخت کي ددې لپاره یوه ځانګړې محکمه جوړه سوې وه تر څو د نشه یي توکو مجرمین محاکمه او مجازات کړي خو تر ډیره حده پوري په دې برخه کي یوازې غریب خلک محاکمه سوي دي او نور لوړ پوړي ان د خلکو په اند د ولسمشر په پرمان چې کلونو کلونه قید پر ختلی وو آزاد سول چې بیلګه یې خلکو ته ښکاره دي.چې دې هم خلکو ته جرات ورکړی چې د خپلو ګټو لپاره د نشه یي توکو کښت او قاچاق ته مخه کړي او تر څنګ یې غریب او بې وزله ځوانان او کورنۍ په دې بدبخته او ناروا بوټي اخته کړي دي تر دي یو څو کسانو د ژوند عشرت او عیاسیکړي دي خود ډیروخلکو ژوند یې تباه اوډیر په داسي حال کي تیر سي چې نه مړ وي او نه هم ژوندي. (صافي ،۱۳۹۷).

**٦. د بدیل نشتوالی او د ادارو نه همږغي**

دا هغه برخه ده چي یوه لویه ستونزه یې رامنځته کړیده، څکه کله چي د روغتون له خوا یو روږدي ورغول سي د کار د نشتوالي له امله بیرته دا ناوړه عمل ته مخه کوي او بل بزگرانو ته په تیرو څو کلونو کي داسي کومه پروژه په لاره نده اچول سوې چي بزگرانو ته د کوکناور د کښت حد اقل څلورمه برخه عواید ورکړي ،ډیري پیسې یې ولگولې ډیري چیغي یې ووهلې خو دا لا تر اوسه معلومه نه سول چي برگز ته څه ورکړل سول څکه د خلکو د ژوند سطحه هماغسي ټپټه پاته سول ،نه همږغي په دې مانا چي د نشه یي توکو د مبارزې پر ضد لپاره معینیتونه، وزارت او داسي نوري دیري اداري رامنځته سوي دي خو د کار اثراتو ته که یې وگورو هیڅ نه لري څکه که کوم تاثیر یې درلودای نو د معتادینو شمیر به نه ډیریدلای چي دا یو لوی لامل دی اگر چي په دې برخي کي ډیرو خبرو ته ضرورت دی نو ددې لپاره چي خبره راڅخه اوږده نه سي نو پر دي ځای یې پریږدو او پر دې یې راټولو چي دغه ادارې تر اوسه پوري د لویي پروژې مثال نسي ورکولای چي هغه ملي وي او د هیواد وگړي دي ورڅخه گټه پورته کړې وي ،یو خبره بله هم کوم چي د بازار نشتوالی دی چي دلته یې یو مثال راوړم کله په افغانستان کي پیاز ورکړل سي او حاصل تر لاسه کړي نوموړي پیاز زموږ تجاران اخلي من په دیرش افغانۍ او هغه پاکستان ووړل کیږي او هلته په یخو ځاینو کي اینبودل کیږي او بیرته په ژمي کي زموږ هیواد ته راوړل کیږي او کیلو په ډیرش افغانۍ بیرته پر موږ خرڅوي چي دا هر اړخه زموږ هیواد ته اقتصادي ضربه رسوي. (صافي ،١٣٩٧).

**٧. نړیوال بازار :**

غواړم په دې برخه کي لږ څه زیاتي خبري وکړم هغه دا چي نړیوال وایي چي په افغانستان کي نشه یي توکي تولیدیږي او د هغې کښت او قاچاق په افغانستان کي کیږي خو دلته یوه پوښتنه دا ده چي بدبختانه هیڅ وخت د نړیوالو څخه ونه ویب سول چي سمه ده په افغانستان کي نشه توکي تولیدیږي خو هغوی ته په یوه کیلو لس زره افغانۍ رسیږي، دا چي د یو کیلو نرخ لکونو ډالرو ته رسوي دا څوک دي؟

آیا افغانان دا نړیوالو بازارنو ته رسوي؟ نه هیڅکه نه دا خپله بهرنیان دي چي د مافیا کړیو سره لاس لري او خپلو هیوادونو ته یې د اوبو او هوا له لاري رسوي دلته که نړیوال ووایي چي تاسو کوکنار مه کرئ نو باید افغان دولت ورته ووایي چی تاسي یې مارکیټ وتړئ نو دغه بوټی به خپله نه کرل

کیږي تر څو چې یې نړیوال مارکیټ نه وي ترل سوی نه د کوکنارو مخنیوي اسانه خبره نده که څه هم پدي برخه کي اوس کشت اوانتقال په مطلق ډول بند دي،( سروری،۱۳۸۹).

## په مخدره توکو د روږدیدو د مخنیوي لاري چاري

### ۱. د قانون عملي کول:

قانون هغه سند دي چي په ټولنه کي د هر ډول ګډوډئ د مخنیوی او د عدالت د پلي کولو لپاره رامنځته کیږي چي تر څو افراد خپل حقوق ترلاسه کړي او تر څنګ یې په یو ارامه او هوسا ټولنه کي ژوند وکړي ځکه قانون د ټولو لپاره یو شان وي او هر څوک چي ورڅخه سرغړونه کوي ورته سزا روکول کیږي ،خو افغانستان چي یو اسلامي هیواد دی د قانون په عملي کولو کي ډیري ستونزي لري هغه دا چي دلته قانون یوازي او یوازي په غریبو افرادو عملي کیږي ځکه موږ ولیدل په څو کلونو کي چي هغه بزګران به جریمه کیدل چي هغوی به کوکنار کرل او هغوی به بندیان کیدل او هغوی ته به ځمکي خرابیدلي ،په داسي حال کي د نشه یي توکو مخنیوی یو ستونزمن کار دی او هیڅکله به دا پدیده ورکه نسي او ددي لپاره باید هغه څوک که وزیر دی که والي دی باید لومړی هغه محاکمه سي او قانون وربانديِ عملي سي تر څو نور ورڅخه عبرت واخلي. خو اوس الحمدالله داسلامي امارت په راتګ سره دمواد مخدر کرکیله صفرته راکښته سوي ده .(دافغانستان اسلامي امارت دنشه يي موادومتعلق کړنلاره قانون، ۱۴۴۵ ) .

### ۲. د بدیل د ژوندانه نه برابرول:

دا هغه مهمه خبره ده چي وبه کولای سي چي په اسانی سره او بغیر د کوم جبر څخه دا کښت او اعتیا له منځه یوسي، لکه څرنګه چي زموږ په ټولنه کي ټولو ته معلومه ده چي د نشه یي توکو کښت یو لوی او ستونزمن کار دی او هیڅ بزګر خوښ نه دی چي ملا ماتوونکی کار دي وکړي که چیري یو بزګر د ورځي ۲۰۰ افغانۍ عاید هم ولري نو زما په اند هغه نه غواړي چي کوکنار وکري خو بدبختانه په دې برخه کي اړوند اداري ډیري ویدې دي ،که اړوند ادارات دبزګرانوسره مرسته اوهمکاري ونه کړي،نو په داسي حال کي به څنګه وکولای سو چي ددي مخه ونی سو او همدارنګه د هغه بې شمیره ادارو جوړول دي چي په خپلو کي همږغي نلري باید ددې ستونزي د حل لپاره یو باصلاحیته اداره رامنځته سي چي هم پالیسي جوړه کړي او هم یې عملي کړي او هم د بدیل ژوندانه په برخه کي بل چا ته احتیاج نه وي ،دوهمه برخه یې هغه اعتیاد دی چي کله یو ناروغ ورغول سي

بيا وروسته ورته د کار زمينه نه وي برابره چي هغه دي وکړای سي او کار دي ورته پيدا کړي نو ددې لپاره بايد هغه ته د کار زمينه برابره سي او ترڅو هغه هلته مصروف وساتل سي او د نشه يي توکو د کارولو څخه منعه سي او که کار نه وي ورته موجود د هغه درملنه هم بې ځايه ده او د هغه وخت تيرول هم خو بدبختانه زموږ په هيواد کي روغو کسانو ته د کار زمينه نه ده برابره نو روږدو کسانو ته به کار له کومه سي. (صافي،۱۳۹۷).

**۳. درملنه:**

په دې برخه کي ستونزي ديري زياتي دي ځکه زموږ په هيواد کي تر يو ميليون ډير معتادين لرو خو د درملني لپاره د معتادينو روغتونونه دير کم دي نو نسي کولای په صحيح ډول د دوی درملنه ترسره سي او بله ستونزه د يو معتاد د درملني لپاره ده چي هغه د درملني وروسته د کار زمينه برابرول دي چي بدبختانه يو شمير کسان د روغيدو وروسته بيرته دا عمل شروع کوي او زموږ د ډاکټرانو خواري هسي عبس ځي نو ددې لپاره موږ د معتاد د رغيدو وروسته هغه ته د کار زمينه برابره کړو ترڅو هغه زموږ لپاره د تبليغ يوه لاره هم وگرځي ځکه هغه په ټولنه کي بيا نوروته ځان ښودلای سي چي اوس کولای سم د يو عادي انسان په توگه ژوند وکړم،اوخلك ددي ناوړه عمل څخه عبرت واخلي او يو بل مهم ټکی د معتادينو سره زموږ رويه او چلند دی چي بدبختانه زموږ ناپوهي ده چي موږ د معتادينو سره ښه سلوك نه کوو ،د درملني لپاره بايد کورنۍ او ټولنه د معتاد کس سره د يو ناروغ انسان په توکه چلند وکړي نه د يو ليوني په څير ځکه زموږ ښه چلند زيات وخت کولای سي چي معتاد د خپل عمل څخه راوگرځوي.(دانش ،۱۳۸۹).

**۴. د بازار بنديدل:**

لکه مخکي چي مو يادونه وکړه بازار هغه څه دی چي د يو سيغوښتني زياتوالی سي هم يې کموالی سي نو دلته هم کله بازار خلاص وي تجار آزاد وي نو دغه غوښتني زياتي وي نو دير خلك يې کښت او څکولو ته لاس اچوي.نو ددې لپاره په هيواد کي موجود دولت هغه غواړي چي دغه ناروا او بده پديده د هيواد څخه ورکه سي نو بايد هغه نړيوال قاچاق بر ونيول سي او د قانون منگولو ته وسپارل سي نه هغه غريب بزگر چي د هيواد په سرحدونو کي له ايرانه تيروي هغه څوك دي ونيول سي چي د روسيې څخه يې اورپا ته تيروي نو هغه وخت به موږ وکولای سو تر دغه ماده د خپل هيواد څخه ورکه کړو. (صافي ،۱۳۹۷).

## پایله

دي نتیجي ته ورسیدو چي په افغانستان کي د مواد مخدره توکود معتادینو شمیر د زیاتوالي زیات لاملونه شتون لري لکه دمخدره توکو کښت ،ګډوالي ،بیکاري ، عامه پوهاوي نشتوالي ،د قانون یوشان نه عملي کیدل ،د بدیل نشتوالی ،نړیوال بازار ،د تعلیم کموالی اود اولاد په وړاندي دوالدینودخانیاتواستعمال دي چي اغیزي خطرناکي دي د نشه یي توکي د انسانانو ترڅنګ پر حیواناتو باندي هم اغیزي لري چي د نوموړو اغیزو په پایله کي په ټولنه کي جرایم زیاتیږي. ددي کتابتوني څیړني موخه داده چي د په مخدره موادو دروږدي کیدو دزیاتوالي لاملونه او دحل لاري چاري په خلص ډول روښانه سي،ددي څیړني په نتیجه کي معلومه شوه چي د مخدره موادو داخته کیدوزیاتوالي ډیري خطرناکه دي زموږ د کورنی، ټولني، ماشومانو د صحت او د جرایمو په ترسره کولو کي مخدره مواد اساسي رول لري ،او په کورني ژوند کي د اولاد په وړاندی دوالدینو د دخانیاتو او مخدره مواد استعمال ددوي په راتلونکي ژونددیری بدی اغیزی لري،ځکه چي اولاد خپل موراوپلار د ځان لپاره دژوند غوره بیلګه او نمونه ګڼي ،او په دغه مرحله کی یی تقلید کوي ، نوهرکله چي مشکل په دوې کي وي دا بی پروایی پخپله داولاد په سرنوشت باندی دلوبو کولو پرته بل هیڅ څه نه دی ، نو دمور او پلار مسؤلیت دادی چي د خپل اولاد لپاره دسعادت او نیکمرغی لاری چاري ولټوي او دمخدره مواد او نورو نشه یی توکي هم په مالي او هم ځاني تلفات لري،باید په کلکه تري ځان وژغوري، همدارنګه عموماً هغه ځای کي چي مخدره مواد کارونه اواستعمال ډیر وي هلته د جرایمو ګراف هم ډیر وي د مخدره مواد کارونکي اکثره په جرایمو لاس پوري کوی او هر وخت کي د جرایمو ارتکاب ته اماده وي دوی د هیڅ ډول اخلاقي او عاطفي مقرراتو پابند نه وي او اکثره د عقلي او دماغي ناروغیو ښکار وي چي د کریمنالوژي له نظره دغه حالت یو خطرناکه حالت بلل کیږي چي دداسي ځایونوڅخه خپل اولادونه او وړونه لیري وساتو.

**وړاندیزونه**

1. دولتونه باید د مواد مخدر په تولید، قاچاق او کارولو په وړاندي سخت ترین قوانین وضع کړي.
2. هغه کسان چي د مواد مخدر په تولید، قاچاق او کارولو کي لاس لري باید حتمن محاکمه او مجازات سي.
3. دهیواد په ټولووکړوباندي یوشان قانون او اصول تطبیق کړل سي.
4. د خلکو ته دنشه کودزیاتونو په موخه عامه پوهاوی باید لوړ سي.

5. بیکاره خلکو اوځوانانو ته مناسب کار پیدا سي خصوصآ هغه کسان چي تازه د نشه څخه روغ سوي یی.
6. په تلویزونونو، راډیوګانو کي باید داسي شیان اشکار نسي.
7. په عامه ځایونو ،هوټلونو ،رسټورانټونو اوکافي شاف خانوکي په جدي ډول کنټرول سي.

## اخځلیکونه


افغانستان اسلامي امارت امر باالمعروف و ونهی عن المنکر قانون، (۱۴۰۳) ه ش کال، عدلي وزارت رسمي جریده.

افغانستان اسلامي امارت د نشه يي موادو متعلق د جزاګانو کړنلاره فرمان.(۱۴۴۵)ه ق کال، عدلي وزارت .

البخاري ، محمد بن اسماعيل(۲۰۱٦)م کال، صحيح البخاري، مطبعه ، مکتبة البشری کراچي.

بزګز ،محمدفرید.(۱۳۷۷)هـ ش.اضرار نشه ،تهران.

بلخي،محمد اسماعیل.(۱۳۷۰)هـ ش.اضرار دخانیات وحکم شرعی ان. جوی شیر خپرندویه ټولنه کابل.

دانش، تاج زمان.(۱۳۹۴) هـ ش. کریمنولوژي، جوی شیر خپرندویه ټولنه کابل.

دانش، حفیظ الله .(۱۳۹۳) هـ ش.جرم پیژندنه، ننګرهار خپرندویه ټولنه.

دانش، حفیظ الله.(۱۳۹۳). کریمنولوژي، ننګرهار خپرندویه ټولنه.

دانش،تاج زمان .(۱۳۷۴).اطفال ونوجوان.مطبعه تهران،سال

دکیهان مجله.(۱۳٦۲ )کال.

دمخدره توکو دکمیسون کلنی راپور.(۱۹٦۵ )م ، ۴ ګڼه، ص،ص،٦٦- ۱۱ .

دمسکراتو اومخدره توکوپروړاندي دمبارزي اوکنټرول قانون .(۱۳۸۹)هـ ش ،دعدلیې وزارت رسمي جریده .

ستانکزی، محمد یاسین، (۱۳۹۳)ه ش کال، نشه يي توکي او اړونده ناروغي، ټایمز مطبعه کابل.

سروری، عبدالبصیر.(۱۳۸۹) هـ ل.کریمنولوژي ،مستقبل مطبعه،کابل.

صافي، هجرت الله.(۱۳۹۷) هـ ل .کریمنالوژي، کودر خپرندویه ټولنه.

صافی، هجرت الله.(۱۳۹۳).کریمنولوژي، کودر خپرندویه ټولنه.

الطیار،عبدالله بن احمد.(۱۳۸۴)هـ ش.مواد مخدر درفقه الاسلامی،مطبعه تهران.

القرآن الکریم

محمد،سعادت نژاد.(۱۳۵۲)هـ ش .اجتماعي رفاه مقاله،ص، ۱۴۹.

مهدي، دکتورکي نیا .(۱۳۴۵). زیست شناسي جنايي،تهران، لومړي ټوک، ص، ۸۴۵ .

Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# Causes of the Increases of Narcotics Addiction in Afghanistan and its prevention

Niaz Mohammad Ehsas*[1], Hafiz Azizullah Hanafi[2]

[1]Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Arakozia Institute of Higher Education

[2]Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Arakozia Institute of Higher Education

Email address of the author: niazmohammad504@gmail.com

## Abstract

Narcotics or Drugs are chemical or natural compounds that have a specific effect on the human mind and body, cause addiction and can cause physical or psychological dependence. Unfortunately, Afghanistan is one of the countries with the highest number of drug addicts and the number is increasing day by day. Fortunately, with the advent of the Islamic Emirate, there has been a significant decrease in the number of addicts and drug addiction. There are various factors that contribute to the increase in the number of drug addicts in Afghanistan, such as cultivation, poverty, unemployment, lack of public awareness, lack of implementation of the law, lack of alternatives, the international market and lack of education. Drugs affect not only humans but also animals, which results in an increase in crime in society. The purpose of this literature review is to clearly explain the factors behind the increase in drug addiction and the solutions. The results of this study revealed that the increase in drug addiction has very dangerous consequences that, in addition to the health of our families, communities and children, also play a fundamental role in committing crimes. In order to reduce the factors and effects of the increase in drug addiction in society and reduce the crime rate to zero, the government should provide alternative crops to drugs, job opportunities for youth, and engage addicts who have recovered from drug addiction in vocational and professional occupations to prevent them from becoming addicted again.

**Keywords:** Drugs, factors behind the increase, treatment and solutions

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:1 Issue: 2 Year:2025**